# ماشومانو مقدس کتاب

وړاندې کونکے



# نوح او لوئ طوفان

لیکونکے: Edward Hughes
خیال: Byron Unger; Lazarus
Alastair Paterson
خوښونکے: M. Maillot; Tammy S.
ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries
مددګار: Bible for Children
www.M1914.org

BFC
PO Box 3
Winnipeg, MB R3C 2G1
Canada

©2020 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نۀ شئ.

نوح یو نیک انسان وو چې د
خدایٔ عبادت به یې کولو. او
نورو ټولو د خدایٔ نافرمانی
وکړه. یو ورځ خدایٔ پاک نوح
ته ووئیل. چې زهٔ به د دنیا او
مخلوق تبا
کړم. او
صرف ستا کورَنیٔ
به بچ کړم.



خدایٔ پاک نوح له خبردارے ورکړو چې زۀ به
یو لوئ سیلاب راولم او زمکه به په اوبو پټه شی
خدایٔ پاک نوح ته حکم وکړو چې خپل ځان او
کورَنئ د پاره او د ډیرو ځناورو د پاره یوه
داسی کشتئ جوړه کړه چې ستاسو د پاره کافی
وی. خدایٔ نوح ته د کشتئ
جوړولو ټوله طریقه
وښودله. نو
نوح د کشتئ
جوړول
شروع
کړل.





کله چې نوح هغه لویه
کشتئ جوړوله نو بغیر د
څۀ شک نه هغه خلقو
نوح پورې
خندل.

هغۀ به خلقو ته
د خدائ په باره کښې
وئیل هم. خو چا به د
هغۀ خبرې ته غوږ
نۀ کیخودو.



نوح د خدایٔ په کلام باندې ایمان لرلو.
د هغهٔ ایمان وو چې خدایٔ داسې
باران راوستلو والا دے. چې تر
نن پورې هغه سې باران نهٔ دے
شوے. هغهٔ ډیره زر کشتئ تیاره
کړه.او په هغې کښې یې د
ضرورت
ټول
څیزونه
کېښودل.

او ځناور يې هم کشتۍ ته و خېژول. خدایٔ پاک د ځناورو نه یو یو جوړه وخستل خو د ښۀ ځناورو نه يې اووۀ قسمه وخستل. واړۀ او غټ ټول ځناور کشتۍ ته دننه شول.



کله چې نوح د ځناورو سره کشتئ ته ختلو،
نو هغوئ د خدائ خلاف د ګنه
کولو نه منع نۀ شول. او هغوئ
هغۀ نه کشتئ ته د ختلو پو
ښته هم ونۀ کړه.



په آخر کښې چې ټول ځناور



او مارغان
په کشتۍ کښې
سوارۀ شول نو
خدائ ته ووئیل
چې کشتۍ ته راشه نو
نوح، او د هغۀ ښځه او درې
زامن يې سره د خپلو ښځو کشتۍ
ته دننه شول. او خدائ پاک د
کشتي دروازه بنده کړله.



بیا باران شروع شو
او دا لوئ باران ځلویښت
ورځې او ځلویښت شپې واریدو،
او زمکه په اوبو پټه شوه.



د باران اوبو
ټول ښارونه او علاقې
پټې کړی. چې کله باران ودریدلو نو
اوبو غرونه هم پټ کړی وو. او
ټول ژوندی څیزونه مړهٔ شوی وو.



چې کله اوبهٔ ډیرې زیاتې
شوې نو کشتئ د اوبو د پاسه
راغله. کیدے شي چې دننه
ویره وې، او په تور تم کښې
په سړی هټکی راشو او ډیر
د ویرې نه ډک وی. خو
کشتئ نوح او د نوح د
خاندان له پناه ورکړې وه.

د طوفان نه پيځهٔ مياشتې پس خداۍ هوا شروع کړه. او کشتۍ په دمه دمه د اراراط په غرهٔ باندې ودريدله. نوح څلويښت ورځې نور په کشتۍ کښې وو.



چې تر سو اوبهٔ کمې شوې نهٔ وې.



نو بیا نوح کړکۍ کولاو کړه
او یو کارغۀ او ګوګوشتکه
یې ولوځول. او چې د ناستې
ځائ یې پیدا نۀ کړو نو
ګوګوشتکه نوح له واپس
راغله.



یوه هفته پس نوح بیا کوشش
وکړو. او ګوګوشتکې په
ماخوکه کښې د زیتونو پاڼه
راوړله.نو په ورپسې هفته کښې
نوح ته پته ولګیده چې اوبهٔ وچې
شوی دی. ځکه چې دا ځل
ګوګوشتکه واپس
رانهٔ غله.

خدایٔ پاک نوح ته ووئیل چې اوس د
کشتئ نه بهر راووځئ. نوح او د هغهٔ
خاندان په شریکه ټول ځناور د
کشتئ نه بهر کړل.



نوح د خدایٔ پاک شکر
اده کړو.نو هغۀ هلته
یو قربان ګاه جوړه کړه
او د خدایٔ پاک عبادت یې
وکړو. چا چې هغه او د
هغۀ خاندان د یو لویٔ
سیلاب نه بچ کړل.





بیا خدائ نوح
سره یو وعده
وکړه. چې زۀ به بیا
هیڅکله هم دنیا په
سیلاب تباه نۀ کړم.

خدائ پاک د خپلې
وعدې د نښې په توګه
هلته یو ښکلے د
بوډئ ټال جوړ کړو.

نوح او د هغهٔ خاندان
د طوفان نه پس يو نوے ژوندون
شروع کړو.وخت تيرويدو سره
سره د هغوئ نسل زياتيدلو
او ټوله زمکه ترې نه ډکه
شوه. د دنيا ټول
قومونه د نوح
او د هغهٔ



د زمنو په زريعه ډير شو.

# نوح او لوئ طوفان

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښ دا قيصئ

شته دے

پيدايښت 6-10

"ستا دَ خبرو تشريح نُور بخښى ـ"

زبور 130:119

ختم شو

3

60

دا قیصۍ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا
مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر غلط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وایې.
د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغهٔ خپل
یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په
سولۍ خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته
لاړو. کهٔ تهٔ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغهٔ نه د خپلو ګناهونو بخښنه
غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به
استوګنه کوی او تهٔ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کهٔ تهٔ په دې ایمان لرې چې دا رښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زهٔ
ایمان لرم چې هم تهٔ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ
شوې او اوس تهٔ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما
ګناهونه وبخښه، چې زهٔ هم د نن نه ژوندون ومومم او د همیشه د پاره تاسره یم.
زما مدد وکړه چې زهٔ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲